# د روغتیا لنډمهاله فدرالي
# پروګرام (IFHP)

## د کډوالو او خوندي وګړو لپاره معلومات

### د روغتیا لنډمهاله فدرالي پروګرام
### یا(**IFHP**)څه ته وايي؟



د کډوال یا پناه غوښتونکي په توګه تاسو نشئ کولی چې د حکومت اړوند روغتیايي بیمې ته السرسی وموموئ، تر څو چې تاسو د کاناډا دایمي استوګن نه شئ او یا د کاناډا تابعیت تر السه نه کړئ.

د دي لپاره چې تاسو روغتیايي اسانتیاوو او پاملرنې ته السرسی وموموئ، د کاناډا حکو مت لنډمهاله فدرالي روغتیا پروګرام یا (**IFHP**) رامینځته کړ ی. تر هغه وخته چې تاسو د والیتي حکومت څخه روغتیايي بیمه یا (**MSP**)ترالسه کوئ، نو ستاسو د روغتیا پاملرنې اړوند ډیری لګښتونه د لنډمهاله فدرالي روغتیا پروګرام یا(**IFHP**)څخه ورکول کیږي.

د روغتیا لنډمهاله فدرالي پروګرام یا(IFHP)
د میډو ي بلیو کراس په نوم د روغتیایي سازمان لخوا اداره کیږي.

د یاد سازمان په اړه د نورو معلوماتو لپاره **medaviebc.ca.** انټرنیټي صفحه وګورئ

A PROJECT OF:
DIVERSEcity community resources society
FUNDING BY:
British Columbia
WelcomeBC
South Fraser Refugee Readiness Team

# د روغتیا لنډمهاله فدرالي پروګرام یا (IFHP)څه پوښښ یا پکې څه شامل دي؟

## لومړنی روغتیايي پوښښ

•ټول هغه روغتیایی خدمتونه چې د روغتیا پاالنو )لکه ډاکټرانو یا راجستر شو و نرسانو( لخوا چمتو کیږي
•په روغتون کې د شپې پاتې کېدو په ګډون، د روغتون ټول خدمات
•د میندو لپاره د امیندواری پاملرنې او معاینات، همدارنګه د ماشومانو لپاره د امبوالنس خدمات
•ځینې درمل )دا چې کوم درمل پکې شامل ، په (pharmacareformularysearch.gov.bc.ca/Search.xhtml کې یې په اړه ومومئ



## اضافي روغتیايي پوښښ

- د سترګو او غاښونو پاملرنه او درملنه
- ستاسې په کور کې ستاسې پاملر نه او د شخصي روغتیا پاالنو یا نرسانو پواسطه اوږد مهاله پاملرنه
- طبي سامانونه او تجهیزات

## کاناډا ته د رارسېدو دمخه او وروسته طبي معاینات او ټېستونه اړین دي

- کاناډا ته د ر ار سېدو تر مخه ځینې طبي خدماتو ته اړتیا ده )لکه واکسینونه او معافیت(
- د مهاجرت اړوند طبي معاینه

## رواني روغتیا خدمتونه

- د رواني روغتیا اړوند مشوره ورکول
- هغه درمل چې د رواني روغتیا ماهرینو لخوا پیشنهاد شوي وي

## څه وخت د **IFHP** پوسیله روغتیايي خدمات نه ترالسه کیږي؟

که تاسو وار دمخه د روغتیايي پاملرنې اړوند هر ډول بیمه و لرئ چې ستاسو د روغتیا اړوند ټول یا ځینې لګښتونه پوښي، نو پدې صورت کې بیا تاسو د IFHP تر پوښښ الندې نه راځئ.

# د روغتيا پاملرنې چمتو کو و نکي د ليدو د مخه بايد څه وکړو او په څه پوه شو

**اړينه الرښوونه:**
په دې اړه د ال ډېرو الرښوونو لپاره د اړونده کډوالو د ځای پر ځای کولو موسسې څخه مرسته غوښتلی شئ.

## د خپل روغتيا پاملرنې چمتو کو و نکي سره اړيکه ونيسئ او ترې وپوښتئ چې"ايا تاسو د **IFHP** سره راجستر يا ثبت استئ؟"



که د هغوی ځواب )(هو)وي
نو پدې صورت کې د ليدنې پرمهال له الندې سندونو څخه يو يې بايد له ځان سره

- راوړئ، تر څو چمتو کوونکی پوه شي چې تاسو د IFHP تر پوښښ الندې استئ.
- مرکې ته د بيرته راستنېدو اعتراف ليک
- د مهاجرت اړوند د پناه غوښتنې سند
- د روغتيا لنډمهاله فدرالي بيمې (IFHP)سند



**که د هغوی ځواب (نه)وي:**
د روغتيا اړوند بل داسې چمتو کونکی پيدا کړئ چې د IFHP سره راجستر وي.

- د الندې لينک له الرې د روغتيا اړوند ټول هغه چمتو کو و نکي موندلی شئ چې د IFHP سره دې ثبت. ifhp.medaviebc.ca/en/providers-search

**که د دوی ځواب ډاډمن نه وي:**
تاسو کولی شئ له دوی څخه پوښتنه وکړئ که چېرته دوی د ميډوی بليو کراس غړی وي.

- که دوی د ميډوی بليو کراس غړ ی وي، نو تاسو کولی شئ دوی ته وواياست چې دوی په مستقيم يا اتومات ډول ور دې چې IFHP ته خپل بيلونه وسپاري او تاديات ترالسه کړي.

## کوم صحي ارګان يا د روغتياييي خدمتونو چمتو کو و نکي چې د **IFHP** سره ثبت نه وي، هغوی ته د درملنې لپاره مه ورځئ!


### پوښتنې لرئ؟

د کډوالو چارو اړوند ، کډوالو او د کاناډا تابعيت د تليفون مرکز سره په  شمېره اړيکه ونيسئ

**1-888-242-2100**

## د روغتيايي خدمتونو چمتو کو و نکو سره تر ليدو وروسته څه کول په کار دي؟

د روغتيايي خدمتونو چمتو کوونکو سره تر ليدو وروسته، هغوی تاسې ته يوه فور مه درکوي، داسې يوه فورمه لکه اندې پې ګورئ. تاسو بايد دا فورمه السليککړئ ترڅو دا ثابته کړئ چې ستاسو درملنه شوې او خدمت درکړل شوی.




د روغتيا پاملرنې چمتو کونکی به ډکه شوې فورمه ميډوی بليو کراس ته واستوي (دا ستاسو مسؤ و ليت ندی)

اړينه الرښوونه:
که تاسو ته د ميډوی بليو کراس لخوا يو ليک راشي، او له تاسو څخه پکې پوښتل شوي وي چې ايا تاسو ته ياد خدمت يا درملنه ترسره شوې، ځواب ورکړئ چې "هو"، په ليک کې الرښوونې تعقيب کړئ او د الرښوونې سره سم يې بيرته ورواستوئ.

## هغه پوښتنې چې بيا بيا ځلې يا په تکراري ډول پوښتل شوي

ايا زه بايد پخپله **IFHP** ته غوښتنليک و ر کړم؟
تاسو اړتيا نلرئ چې د IFHP لپاره غوښتنه وکړئ. ستاسو دکډوالۍ ډول يا حالت په اتوماتيکه توګه ستاسو روغتيايي پوښښ فعالوي.

کوم عوامل به زما، **IFHP** ته، د السرسي مخنيوی وکړي؟
• کله چې ستاسو د کډوالۍ غوښتنه ونه منل شي
• کله چې مو د کډوالۍ غوښتنه بيرته اخيستې وي، او يا يې په مخ کې قانوني خنډونه شتون ولري
• يا تاسو کاناډا پر ږدئ

هغه صحي ارګان چې زما درملنه کوي او د **IFHP** سره راجستر وي، ؟ ايا زه به بيا اړتيا ولرم چې د خدمت يا درملنې لپاره پيسې ورکړم؟
نه، تاسو اړتيا نلرئ چې د کوم خدمت يا درملنې لپاره پيسې ورکړئ ، هغه بايد په بشپړ ډول د IFHPالخوا پوښل شوي وي )دا چې IFHP د کومو شيانو پيسې ورکوي، کولی شئ چې په ۴ مخ کې يې په اړه ولولئ(.

که زه د داسې کومې درملنې يا روغتيايي خدمت لپاره پيسې ورکړم چې د **IFHP** لخوا هم پوښل شوي وي، ايا زه به بيا خپلې پيسې بيرته ترالسه کړی شم؟
نه! که تاسو د روغتيايي خدماتو چمتو کو و نکو ته له خپل جيب څخه پيسې ورکړئ، نو تاسو به دا پيسې بيرته ترالسه نکړئ ، اګر که د IFHP پواسطه پوښل شوي هم وي!


IN COLLABORATION WITH:
Western SocialScience
Network for Economic and Social Trends (NEST)

A PROJECT OF:
DIVERSEcity community resources society

FUNDING BY:
BRITISH COLUMBIA
WelcomeBC

SOUTH FRASER Refugee Readiness Team